# د Maine له هغو کورنیو څخه ملاتړ وکړئ چې ځوان ماشومان لري

## Help Me Grow Maine

یا زنګ ووهئ
**1-833-714-7969**

Help Me Grow Maine د لاسرسي مرکزي نقطه ده چې له زیږون څخه نیولې بیا تر اته کلنو ماشومانو کورنۍ، او همدارنګه د امېندوارۍ له پالونکي سره یادې کورنۍ د ماشومانو د ودې او همدارنګه د ټولنې سرچینو په اړه له معلوماتو او خدماتو سره نښلوي. د 211 Maine سره په همکارۍ، پالونکي او چمتو کوونکي کولی شي د اضافي مرستې لپاره له Help Me Grow ادارې سره اړیکه ونیسي. Help Me Grow به یې ستونزې واوري، کورنۍ به له خدماتو سره ونښلوي، او د پاملرنې او راجع کولو سرچینو دواړو پر لور به ورسره اړونده ستونزې تعقیب کړي.

## د Maine کورنۍ

د Maine کورنۍ د ټولنې د کاري ډلو یوه دولتي شبکه ده چې د امېندوارو مېرمنو او نویو زېږېدلو والدینو اړتیاوې پوره کوي. د کور پاملرنې او مسلکي لیدونکي به له تاسو سره معلوماتو او سرچینو ته د لاسرسي لپاره مرسته وکړي چې کولی شي ستاسو د ماشوم او ټولې کورنۍ فزیکي او احساساتي روغتیا څخه ملاتړ وشي.

## د ME لپاره لومړنۍ مداخله، له 0 تر 3 کلونو وړیا مناسبه دولتي ښوونه او روزنه، 3 تر 5 کلونو پورې

یا زنګ ووهئ
**877-770-8883**

په وړیا او رضاکارانه ډول، له زیږون څخه پیل د Maine د پوهنې ریاست د سالمې ودې او د زده کړې برنامې وړاندې کوي. د ME لپاره لومړنۍ مداخله، له زیږون څخه تر درې کلنۍ، پر کورنۍ متمرکزه، انفرادي پرمختیایي ارزونه، د زده کړې ملاتړ او نورې سرچینې چمتو کوي. ځوان ماشومان، چې عمرونه یې له دریو څخه تر پنځو پورې دي، د وړیا مناسبو عامه زده کړو او اړونده پرمختیایي خدماتو څخه ګټه پورته کوي (د ماشوم پرمختیایي خدمات، B برخه).

## د خوندي پاملرنې پلان (POSC)

د Maine د خوندي پاملرنې پلان د روغتیایي پاملرنې یا ټولنیزو خدماتو چمتو کوونکي ، مور او / یا نورو پالونکو ترمینځ رامنځته شوی، د کورنۍ ځواک او اړتیاوو د پېژندنې، د ګټورو سرچینو، او په مخدره توکو د اخته ماشومانو او کورنیو غوره ملاتړ لپاره اقدامات ترسره کوي. د خوندي پاملرنې په پلان کې زیاتره وختونه خدماتو ته راجع کول یا کورنیو ته د دوی د تعقیب لپاره د اړیکې د معلوماتو چمتو کول شامل دي.

## ماشومان او تنکي ځوانان چې ځانګړې روغتیایي اړتیاوې لري

یا زنګ ووهئ
**1-800-698-3624**

هغه ماشومان او تنکي ځوانان چې د ځانګړي روغتیایي پاملرنې اړتیاوې لري د هغو ماشومانو او تنکیو ځوانانو له کورنیو سره کار کوي چې له 22 کلونو څخه کم عمر لرونکي یې ځانګړې روغتیایي پاملرنې ته اړتیا لري. CYSHCN کولی شي کورنیو او ادارو ته د هغو سرچینو په موندلو کې لارښوونه وکړي چې وکولی شي د دوی د ماشوم اړتیاوې په غوره توګه پوره کړي. د کاري ډلې غړي کولی شي کورنیو ته پېچلي طبي سیستمونه وښیي، دوی د پاملرنې له هغو خدماتو سره ونښلوي چې له مخې یې ناروغ ترټولو غوره ممکنه پایله ترلاسه کړي.

## د ماشومتوب د لومړنۍ دورې مشورتي همکاري

یا زنګ ووهئ
**207-624-7991**

د ECCP مشاورین د کورنیو، د ماشومانو پاملرنې له چمتو کوونکو، او ښوونکو سره په ګډه کار کوي ترڅو له 0 تر 8 کلنو کوچنیو ماشومانو د رواني روغتیا له اړتیاوو سره مرسته وکړي چې د خپل ماشوم د پاملرنې په اړه یا په ښوونځي کې چلند یا احساساتو اړوند اندېښنې لري. د ECCP خدمات لنډ مهاله، رضاکارانه او وړیا دي.

## د CradleME راجع کولو سیستم ته

یا زنګ ووهئ
**1-888-644-1130**

CradleME له تاسو سره مرسته کوي چې ستاسو او ستاسو د ماشوم لپاره په کور کې له مناسبو خدماتو سره تاسو نښلوي. CradleME د ګڼ شمېر برنامو ترمنځ یو شراکت دی.

## د WIC غذايي برنامه

یا زنګ ووهئ
**207-287-3991**

WIC امېندواره مېرمنو، د سینې په شیدو تغذیه کوونکو مېرمنو، او تر 5 کلنۍ پورې ماشومانو ته خدمات وړاندې کوي چې، په دغو کې رضاعي ماشومان هم شامل دي. WIC د تغذیې بشپړه پاملرنه ده او صحي خواړه، د تغذیې اړوند ښوونه او روزنه، د مور د شیدو ملاتړ، او نورو خدماتو ته راجع کول وړاندې کوي.

## د عامې روغتیا نرسنګ

یا زنګ ووهئ
**1-888-644-1130**

د Maine CDC د عامې روغتیا نرسان د کورنیو لپاره په کور کې روغتیایي خدمات وړاندې کوي. له زیږون څخه مخکې او له زیږون وروسته ټولې مېرمنې او ټول نوي زېږېدلي ماشومان او تر 12 میاشتو پورې ماشومان ښایي د عامې روغتیا د نرس له لورې لیدنه ترلاسه کړي. که تاسو د خپلې روغتیا یا ستاسو د ماشوم د روغتیا په اړه پوښتنې لرئ، کولی شئ هر وخت د CradleMe شمېرې ته د زنګ وهلو له لارې د نرس غوښتنه وکړئ.

## د Maine مور

یا زنګ ووهئ
**1-888-644-1130**

MaineMOM د امېندوارۍ او له زیږون وروسته خلکو ته چې د opioid د کاروني اختلال لري او د دوی ماشومانو ته د مینډو او مخدره توکو د کارولو درملنې خدماتو سره له یوځای کولو له مخې پاملرنې ته وده ورکوي. د MaineMOM خدماتو ځایونو او خدماتو ته د راجع کولو د څرنګوالي په اړه معلومات په MaineMOM.org کې موندل کېدلی شي.

## د کوچنیو او ځلور کلنو ماشومانو پاملرنه

د ماشوم د پاملرنې غوره کول به یو له مهمو پرېکړو څخه وي چې تاسو یې کوئ. د کیفیت برنامې د روزنې پاملرنې وړاندیز کوي او له ابتدايي زده کړې ملاتړ کوي، او د Maine ایالت د مرستې لپاره سرچینې لري!

د ماشوم د پاملرنې د وړتیا برنامه له وړ کورنیو سره مرسته کوي چې د ماشوم پاملرنې لپاره پیسې ورکړي ترڅو والدین وکولی شي کار وکړي، ښوونځي ته ولاړ شي، یا د دندې اړوند په روزنیزه برنامه کې برخه واخلي. یادې مرستې د هغو وړ کورنیو لپاره هم شتون لري چې متقاعد بالغ (بالغین) یې د ماشوم قانوني سرپرست وي.

د ځلور کلنو ماشومانو برنامه وړیا، لوړ کیفیت لرونکې لومړنۍ زده کړې او هراړخیزه تغذیه، روغتیا، رواني روغتیا، د والدینو/پالونکي ښوونه او روزنه، او د وړ اشخاصو او کورنیو لپاره چې تر 5 کلنۍ پورې ماشومان زېږوي، وړاندې کوي.

## MaineCare ته

زنګ ووهئ
**1-855-797-4357**

MaineCare د Maine د میډیک اېډ برنامه ده او د ټیټ عاید لرونکو لویانو، ماشومانو، امېندوارو مېرمنو، مشرانو بالغینو، او معلولیت لرونکو کسانو لپاره وړیا یا د ټیټ لګښت روغتیایي بیمه چمتو کوي. MaineCare له تاسو سره د هغې روغتیایي پاملرنې په ترلاسه کولو کې مرسته کوي چې تاسو ورته اړتیا لرئ څو له مخې یې د خپل ځان یا کورنۍ پاملرنه وکړئ. کولی شئ MyMaineConnection.gov ته د تګ له لارې نور معلومات ترلاسه کړئ او د MaineCare لپاره یې غوښتنلیک وسپارئ.

## CoverME

یا زنګ ووهئ
**207-642-7991**

د Maine لپاره روغتیایي بیمې پوښښ (CoverME.gov) د Maine کورنیو لپاره د وړیا او ټیټ لګښت روغتیایي بیمې د اختیارونو په اړه معلومات چمتو کوي. تاسو کولی شئ د ځایي ادارو لارښود هم پیداکړئ کوم چې له تاسو سره ستاسو د بیمې د پوښښ د اختیارونو په پوهېدو او د غوښتنلیک په بشپړولو کې مرسته کولی شي.

د QR کوډونو د سکېن کولو لپاره، په خپل وسیله کې د کمرې اپلیکېشن پرانیزئ او هغه کوډ ته یې مخامخ کړئ چې تاسو یې سکېن کول غواړئ. یو لېنک به په شیشه باندې درته راڅرګند شي - وېب پاڼې ته د تګ لپاره پرې کلیک وکړئ.

دا اداره د مساوي فرصت برابروونکې ده.